مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خوشحال آصفي

۲۰۱۹/۰۸/۲۱

# له طالبه ویره نده په کار

په داسي حال کي چي د امریکا او طالبانو تر منځ د سولي رواني خبرې نهم پړاو پیلېدونکی دی او دواړه خواوې پر مهمو مواردو د هوکړې خبره کوي؛ دغو خبرو ته د خلکو هیله مندي زیاته شوې، خو یو شمېر خلک د سولي له روانو خبرو اندېښمن دي او ځیني سیاسیون هم له دغو خبرو او د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د اوسني نظام د لنډ عمر خبره کوي.

عام خلک بیا دوه ډوله اندیښني لري؛ یوه اندېښنه د سولي د روانو خبرو د جریان په اړه او بله یې یې بیا له سولي وروسته په حکومتي او سیاسي نظام کي د طالبانو د ورګډېدو په اړه ده.

د افغان حکومت ترڅنګ ځیني خلک اندېښنه او پوښتنه لري، چي د حکومت له استازو پرته د امریکا او طالب لوري تر منځ ربښتیا هم د سولي لپاره صادقانه خبرې رواني دي که د دواړو لورو تر منځ د افغان سولي په نوم معامله روانه ده؟

د دوی اندېښنه له دې امله ده، چي د زلمي خلیلزاد او طالب استازیو تر منځ د تېرلو پړاونو د ترسره شویو خبرو پوره جزئیات نه رسنیو او نه هم افغان حکومت ته معلوم دي او ظاهراً ارګ هم د دې خبرو پایلو ته په تمه دی. دغې چاري خلک د سولي په روانو خبرو شکمن کړي، چي ګواکي خدای مه کړه د سولي په نوم کومه معامله ترسره نه شي. دویمه ډله خلک بیا طالبانو سره له سولي وروسته د افغانستان په سیاسي او حکومتي نظام کي د دوی له ورګډېدو او د دغې ډلي له راج چلولو څخه اندېښنه لري. دوی وايي که له طالبانو سره سوله کیږي نو آیا افغانستان به یو ځل بیا اتلس کاله پخوا وختونو ته ځي او که طالبان به له خپل پخواني سخت دریځې څخه لاس په سر شوي وي؟ دغه ډله خلک تول له افغانستانه د امریکا له وتلو او په واک کي د طالبانو له شریکولو سره مخالف دي. دوی وېره لري چي بنایي طالبان به له خپل پخواني دریځه، چي د خپلي واکمنی پر مهال یې د خلکو پر وړاندي په ځانګړې توګه د مېرمنو پر وړاندې درلود؛ نه وي تېر شوي.که څه هم طالبانو ته نږدې سرچینو رسنیو سره خبرو کي له سولي وروسته د خپل اوسني او پخواني دریځ د بدلون خبره کړې، خو بیا هم هغوی، چي لا یې هم د طالبانو د نظام خونړی انځور په ذهن کي دی؛ د طالبانو د مفکوری او ذهنیت پر بدلون باوري نه دي.

### اوس باید څه وکړو؟

که څه هم پورته دواړه یادي شوی اندېښني تر ډېره پر ځای دي، خو د حل لار هم دا نه ده چي یا د سولي د روانو هڅو په اړه منفي فکر وکړو او یا هم له سولي وروسته له طالبه وډار شو او  له امریکا پوری کلک ونښلو، چي له افغانستانه دې نه وځي، ځکه دا به ناشوني وي،چي تل دې پر بل چا متکي واوسو.

تر څو به له یوې ډلي د ډار له امله بل چا ته محتاج اوسو او تر څو به خپل ځانونه په نورو ساتو؟ راشئ، چي نور په خپل منځونو کي لاس په کار شو؛ نباید له سولي وروسته له طالبه وډار شو او نه له افغانستانه د امریکا په وتلو، نه له طالبه ویره په کار ده او نه هم د بهرني ځواکونو له وتلو، ځکه اوسمهال طالبان هم په دې پوه دي، چي یو ملا په یواځې توګه نشي کولای جامع الکمالات واوسي او په بهرنیو اړیکو، ستراتیژي جوړولو، اقتصادي ، انجنیري ، طب او... برخو کي نظر ورکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

بل لور ته يو څه، چې د وېرې او ډار کچه له صفر سره ضربوي هغه د روسيي او چين په شمول د افغانستان په کرکېچ کې د ښکېلو او با نفوذه هېوادونو د تضمين خبره ده، چې د سولې هوکړه به تضمينوي.

باید په ياد ولرو، چې نه مو بهرنيان سرنوشت ټاکلی شي او نه مو طالبان د سرنوشت په اړه پرېکړه کولی شي. اوس په کار ده، چې که طالبان ځانونه افغانان بولي نو بايد د تېرو کلونو ترلاسه شوې لاسته راوړنې، چې د زده کړې، بيا رغونې، سوداګری، سياست، حکومتولی، د بيان آزادي، د ښځو حقونو او رسنيو د فعاليت برخه کې ترلاسه کړي؛ وساتي.
لکه څنګه، چې دوی ويلي د واک د انحصار په فکر کې ندي؛ بايد نور ځانونه د نورو هيوادونو له نفوذه را خلاص کړي. نور بايد خپل افغان په غير کې ونيسي او دښمن ته له ولس سره په ګډه ځواب ورکړي، چې نور نو د دوی په خبرو نه دوکه کيږي.
ولس هم بايد د طالبانو په وړاندې نرمښت وښيي.
مدني بنسټونه او د بشر حقونو کميسيون هم بايد طالب سره له سولې وروسته د هغه جنګي ډلو پر وړاندې قضيې راونه سپړي، چې په تېر کې يې د جهالت او مجبوريت پر مهال له دې ولس سره ترسره کړي دي.
او دوی (طالبان) دې هم ځانونه ثابت کړي، چې نور خپلواک دي افغانستان بايد له ټولې نړۍ سره د يو آزاد او قوي دولت په توګه خپلې اقتصادي، سياسي او ډيپلوماتيکي اړيکې ولري. هيڅ هېواد ته بايد د افغانستان په کورني سياست کې له حده ډېر يا کم فرصت ورنکړل شي. يعني له هېوادونو سره دې د افغانستان د خلکو او ملي ګټو پر بنسټ دولت - دولت اړيکې جوړې شي څو نورو هېوادونو ته دلته د نيابتي جګړې لپاره پلمه پاتې نه شي؛ له دې لارې کولای شو، چې تلپاتې سوله تجربه کړو او د په نظام کې د طالبانو له ورګډېدو مو پر کوڅو او ښارونو وېره خوره نکړي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ